# زرمینه ښه نجلۍ ده!


Michael Oguttu
Vusi Malindi
Darakhte Danesh

2
پښتو ps

کوچنی ورور مې ډېر خوب کوي، خو زه سهار وخته پاڅېږم
ځکه چې زه ښه نجلۍ یم.

زه د خپل کور روښنايي او د لمر وړانګې يم.

مورمې وايې، ته زما د سهار وړانګې يې.

په یوازې توګه مې ځان مینځم او له هېچا مرسته نه غواړم.

زه که له سړو اوبو او صابون سره ځان ومینځم، د راحتۍ احساس کوم.

مور مې زما روغتيا ته پام کوي، او راته وايي چې تل غاښونه دې ومينځه.

له ځان مینځلو وروسته، زه له خپل نیکه او ترور سره خبرې کوم او دوی ته د نیکمرغه ورځ هیله کوم.

له هغې وروسته، زه خپلې جامې اغوندم او مور ته مې
وایم چې اوس لویه شوې یم.

زه مې خپل کمیس او د بوټانو بندونه تړلی شم.

او ځان ډاډمنه کوم چې کوچنی ورور مې اوس د ښوونځي
په درسونوباندې پوهېږي.

زه په ټولګي کې ښه فعالیت ترسره کوم.

زه دا ټول پورتني کارونه هره ورځ ترسره کوم، خو یو څه
چې زما ډیر خوښ دي، هغه لوبې کول دي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## زرمینه ښه نجلۍ ده!

Michael Oguttu
Vusi Malindi
Darakhte Danesh

CC BY